(c) ketabton.com: The Digital Library



همستیه :

۱-دبابرد نمسی دهمایون دزوی محمد حکیم قبرچی د(۹۶۰ هق)

کال ددر بمی خور په ۱۵ ز بیږېدلی او د(۹۹۳ هق) کال دبرات په اوله دجمعې

په ورځ مړاو دبابرد قبرښی خواته ښخ دی .

۲-دبابر دزوی هندال قبر، چی د(۹۵۸ هق) کال دذیقعدی په ۲۱ په چپرهار کی

وژل سوی او دبابر دقبر کیڼی خواته ښخ دی

۳-درقیه سلطان بیگم قبر، چی دمیرزا هندال لوراو دجلال الدین اکبر پاچا ساندینه

وه او په (۱۰۳۵ هق) کال دهند په اکبرآباد کی مړه سوې وه اومړی یې کابل ته

راوړه سوی او دباغ په پنځلسمه مرتبه کی ښخه ده، او دجهانگیر پاچا په امردسر

وچپوتره و رباندی جوړه سوې ده .

عبدالحمید لاهوری په خپل کتاب «پادشاه نامه» کی لیکی دبابر باغ پنځه سوه گزه

اوږ دی، او پنځلس مرتبې یې درلودلې چه دهری مرتبې لوړوالی دبرش گزه و، او دشاهجهان

په وختو کی هم دې باغ د ښربنه ر و نق درلود، یوو ارېې پنځلس زره روپی او بیا یې دخپل

جلجیوس په نولسم کال په (۱۰۵۶ هق) کی دوه لکه او پنځوس زره روپی دبابر په روضې

اود کابل په نورو باغو خرڅی کړی چی دهغوله جملې څخه یې دبابر ترقبر په لاندی

مرتبه کی یو کوچنی مسجد دمرمرو له ډېرو څخه په دوه کاله کی دخلوېښتو زرو

روپیو په مصرف ودادن کړ، او هم یې په دې باغ کی دوو لس آبشارونه دډېرو

سره د کابل له مرمرو ډېرو څخه جوړ کړه .

دبابر شخصیت او ده علمی او ادبی استعداد:

دسور خانو په اتفاق بابر دلوړ شخصیت خښتن او دعلمی او ادبی استعداد خاوند و

(c) ketabton.com: The Digital Library



نگز یسه عالمگیر (۱۰۶۸-۱۱۱۸ هق) ستاینه د اسې چې بابو جان تر ۱۰۶۸ هق کال وروسته هم څه موده ژوندی و .

دبابو جان دنظمو نو مجموعه په بشپړ دول تر اوسه نه ده چاپ سو خو خطي نسخې یې ډېرې دی. د لندن په انډیا آس لائبریرۍ کې یوه نسخه سته چې دلوی احمد شاه بابا د بابا چائي په خوړ رلسم کال (۱۱۷۳ هق) کښل سوی ده او راپور دوضا لائبریرۍ نسخه دانډیا آفس لایبرېرۍ تر نسخې یو کال وروسته (په ۱۱۷۵ هق) کې لیکلې سوې ده . دبابو جان سر یانې قصیده په ۱۸۴۷ کال ډېرې پر وفیسور دورن په پښتو منتخبانو کې له ۳۷۴ څخه تر ۳۸۴ مخ پورې چاپ سوې ده ، او راورتي د گلشن روه په پښتو منتخبانو کې دبابو جان د کتاب یوه برخه را اخیستې ده . خو دنشرگمان یې برکړې دي حال داچې دیو هانه رشاد په نظر لظم دي . په هر صورت دبابو جان د کلا وی نمو نې دادی :

—۱—

سینه ستا کړه د دنیا مینې لتاره | د زړه مینه دی تمامه پسې لاړه
د دنیا له مینې هسې سبدل شوی | څه دروغ الابلادی کړه په غاره
محرمان مستحقان دي نامحروم کړه | دحرام پوښتنه نکړې هرڅه نغاره
هغه مال به دې بلاښې سیاه سرڅه | لکه څوک څه زهر پرېانکوي زړي له بهانه
تابه بیاسوسي په دومره ډیر عالم کې | ستا بشر به په سوسو نوکرې لتاره
په مکر و نو به دې اخلې یو تر بله | هیڅ نیره به دې پرې نږدې دې بې گذاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادا سی نا مسلم دی ورته کښېنه په زارو
عمر تېر که په خوارو
آخر در به مې کړی تا له
یګادی یم و هلی ...

---

که دادادی نا مسلم دی ونه یم زوی د خوشی کار
زړګی بی دی پر هار
مدام څاڅی تر ینه وینی
ګور لی ښاسا را نو یم زېروت و ستا په دلبار
چرا و دی په سازار
روغ به نشم ګل رنګینی
له دره خو دی نه ځم که سی و وسېځی په نار
نه سر پرم په ګفتار
په مجلس د نازنینی
سترګی دی چغمخ خوله دی تو پکک ډک له چرو
شین خال دی په ابرو
سپینه خوله دی را کړه ساله
یګادی یم و هلی...

---

سترګی سی چغمخ خوله سی تو پکک و کړه ترپ پام
چی را نه شی سا ښام
بند یوا ن به شی د ګور

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۸۸- باران آخوند:**

ملا باران آخوند په خټه خوستی دکوټي په پښتنو کې د ښه نامه خاوند وسړي او په کچلاغ پوري دي، ښځې يې ځيري ورځي. د ده زيارت د عوامو په عقيده دکوشينانو د ديولړ ناروغيو دپاره ښه بلل کيږي.

مأخذ:

مزارات - دښاغلي سيال کاکړ ليکنه - ۱٦ مخ

**۱۳۸۹- باران يلکزی:**

دپښين د بازارگي دايکلزيو د کلي اوسيدونکي په خټه توريڼ ايکلزی پښتون دخپل وخت له نوميالیو غازیانو او مبارزانو څخه و چې په (۱۸۴۲م) کې دانگريزي دجنرال ايگلينډ دپوځ سره په مړانه وجنگيد، اودهغه دمبارزينو په کتار ولاړو.

مأخذ:

پښتو او پښتانه په سهيلي پښتونخوا کې د پروفيسر سيال کاکړ ليکنه -۳۰۳ مخ

**۱۳۹۰- باران سنځر خيل:**

د کاکړستان دبوري د روسانی سیمی د ختکي نوسي کلي اوسيدونکی په خټه سنځرخيل کاکړ د پر نگيانو د استعمار ددښمنانو نامتو ميالي پښتون وا و په کاکړي غاړو کې يې ستاينه شوې ده چې وايي

باړان سړ سهتر زمړ ردي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لطیفه**

«کله له کلاته سلاباز راغیءاو په قند هار کی زسامپلنه سو ، دستی ساچرگ حلال کا، او طعام سی تیار ، چی دستر خوان راغی سلاباز هسی شعر وو ایه:

پر کورو یې رسې کر زی          د با ز بر خه یو چیچی دی
د با ز ښکا روی د غر څنو          او س سی بس ها سپینکی و ری دی

ساژ رهغه سپین و ری هم حلال کا، او دسپامه سپلدستیا ته سی پو خ کا»

سلا باز پر او لسی و زن شعر و نه و یل، چی یو ه بدلهیې داده :

راسه پر ځنګ، راسه لیلی، ته سی نږدې سهله د ل
یمه زخمی چی سی و نه نجتې په خوږ زړه سنګو ل

---

راسه پر ځنګ ،راسه لیلی، و لی له سا کړې بېلتو ن
داستا لهغمه سی زړ کی دی ، پهسر وو ینو ګلګو ن
که هر څو تېز تم نه پر یږ دی سی ستا د عشق شوا خو ن
زه نه خلاصیږ م لهغمازم په لږدنه پهتلل

---

را سه پر ځنګ،راسهلیلی، چیدی پهزړه کم سلهم
داستاپه عشق کیسی تر شا کا ددنیا و اړه غم
حساب کتاب مجلس سیو اړه کاستا سینی بر هم
لاروړ ته نسته چی دی کښینو م درو ن په کو ګل

---

راسه پر ځنګ ،راسهلیلی، چیدی پهزړه کم پو ری
کجل درو اخله دو اړی ستر ګی به دی زه کم تو ری

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه وخت چې په ټوله پښتونخوا کې د افغانستان د استقلال په باب د پرنګيانو پر ضد مبارزې پيل سوې نو بازجو ګيزي هم په (۱۹۱۹ ع) کال د انګريزانو سره په سړانه و جنګيده.

پروفيسر سيال کاکړ ليکي چې:

«په دغه شپو کې د کلاسيف الله تحصيلدار يا په بله ژبه ولسوالۍ سردار جعفر خان محمد زيو، هغه د وروګلوي پر اساس بازجوګيزي ته يو څو دياشتي وړاندې لاخبر تياو ر کړی وه، چې غوړځه پرنګيان دي و ژني

بازپه خان پر سر تياري يې و نيوله، خپله اسپه يې نه وه پر يوه بله اسپه سپور سو، څه وخت چې منزل ته ورسيد، نو له روه پر خپله اسپه سپور سو، خو له بده سوه، داسپې شاشنې نه وه، او له بلې خوا په بازجوګيزي پسې د انګريزانو رساله وه په دغه سابين کې اسپې سلې سبارزتس کې، چې په نتيجه کې د هغه اد و مغوت مات سو- په دې باب فولکلوري اشعار جوړ سوي چې د بېلګې په توګه دلته وړاندې کيږي:

باز دنه يو وړ ترتا که (۱)
پښې دې ساتي سه بو را که

پښې دې ساتي سه خار پايه
«باز» دې نه يو وړ ترځايه

څه وخت چې د بازجو ګيزي وروڼ مات، سو نو رساله بير ته وګرځيده، البته د غليم له خوا يو چاتيکري و رواهه

---

۱- تا ک تګ دو يش په معنا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پالهٔو پری تیرسو کسو لاسونه و تړل و رلږو راغلل، تیرسو و اړه‌یې جداجدا مړه کړل ـ یو‌دبل نه خبرنه شول ـ هغه باقي یې تاراج کړل ـ تیرا ه‌یې له‌تیراهی خالي کړه اپریدو و ر کزو و نیو» (۱) تر هغه و روسته بایزید روښان دپرپښتانه پرځان‌راټول کړه او هغوته‌یې وویل :

«تاسي یو قوم واست چې ترڅهلي پوری سو پاچهي درلودله ، او س‌دمغلو سریان سواست ، او ددوی ظلمونه گالیۍ ؟ !

ولاړسی‌ـاو د اغلامی کړی‌له‌غاړو و باسیء ! » (۲)

دې‌ډوغ په زرو پښتانه راوپارول او دمتجاوزینو په مقابل کې سربښندنې ته چمتو‌سو ل ، او دننگرهار پرخوار او خوځېدل‌چې لومړی له افغاني خاوری څخه دپردیو‌سغلوپښې‌و باسي او بیادهند خواته هڅه و کړی ـلکه اخون درویزه چې دپیر روښان له خولې لیکي :

«لښکری به کړم‌بنیادی، هندوستان به و نیسمه، آوازې‌یې کړلې‌گډی ، هر چې آس‌لری‌ءراځيء ـآس په ساپوری باسيء !

دا کبر بادشاه تنگې‌و اړه زسادی ، دوه گونه به در کوم دغه بنادی » (۳)

هغه و ،چې بایزید روښان له‌تیراڅخه د«بړو» سیمې‌ته راغیء ، هغه سیمه یې ونیوه له او هلته د پر ه‌سو .

په کابل کې‌دمغلولو واکدوال سحسن خان چې لاد مخه دبایزید په راخوځېد و،

---

(۱) تاریخ مرصع ـ۲۳۹ مخ

(۲) دپښتو د ادبیاتو تاریخ ـ ۲/۲۸۷/

(۳) د اخون درویزه مخزن ـ۱۳۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



«کان شاعرر اجز اً، سجاعاً، خطیباً، صاحب منثور و مزدو ج، و له رسائل معروفة»

ابن ندیم لیکې چې: «دده اشعار یو ځای راغو نه سوی نه دی، خو سانز دې ز ر پا نې دده اشعار لیدلی دی»

ابن خلکان وایې چې: «هغو کسانو چې دده داشعار و منتخبات راغو نه کړی دی، دی یې هم په تفصیل سره معرفی کړی دی او وایی چې د «اغانی» خاوند دده شپاړس پښته یاد کړی چې دټولو نمونه فــارسی دی» د بشار نخارستا نـــي لــــــه اشعار و څخـــه ګند پــږی. چــې تر هــرڅه پر ده باندی سلبی احساسات غالب وو، او څنګه چې عرب و دده پر هیواد خراسان باندې تیری کړی وو، او دده اولس یې تر پښو لاندی کړی و، نو بشار که څه هم په عرب و کی اوی سړی و، بیا هم دعرب و دتسلط او تفوق سخت مخالف و، او په خپلو اشعار و کی یې دعر بو سختې غندنې کړی دی او په دې باب کـې یې او بده شعر و نه ویلی دی چې څو بیته یې دا دی:

ساخبر فاخر الاعر اب عني
و عنه حین تاذن بالفخار

احین کسیت بعد العری خز اً
و نادمت الکر ام علی العقار؟

تفاخر یا ابن را عیته و راع
بنی الاحر ار حسبکا ن خسار

و کنت اذا ظلمت الی قر اح
شر کت الکلب فی و لغ الاطار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنګل مه مینځی پردړو                ښنګل پیر دی د کاکړو

ماخذ :

۱ - پښتوا و پښتانه په سهیل پښتونخوا کی د پروفیسر کاکړ اثر- ۱۸۷/۱ مخ                ۲ - دښاغلی عطایی یاداښت

## ۱۵٦٦- ښنګی الینګاری :

ښنګی‌شاه مشهور په‌ښنګی‌د پښتو ژبی‌اسی شاعر دلغمان په‌الینګار کی اوسیدی او دتوری جوړولو کسب‌یې کاوه په اشعارو کی

یې کلمه‌د«ښنګی» او کلمه‌د«ښنګی‌شاه»په‌نامه خان یادکړی .

اشعار یې براولسی او زانو و یلی‌او شاګردان یې‌هم درلودل چی‌ددوه په پیروی یې‌شعرونه ویل :

یو شعر یې دغازی محمدجان خان وردګ‌په‌ستاینه کی(د۱۲۹٦ ه‌ق) کال دسلی جهاد دپیښو په‌باب و یلی‌دی چی له‌هغه څخه څرګندیږی چی«ښنګی» تر هغه وخته‌ژوندی و دغازی محمدجان خان دستاینی سر یې‌دادی :

رحمت‌دی وی یارانو په غاز محمدجان‌خان

یو دی و ، له سر د انو

ولاړلکه زمری، وپیرنګی ته په میدان

قاتل د کافرانو

مأخذ :

فرهنګ زبان وادبیات پښتو - ۷۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۲۹ـ اکبر شاه :**

ملا اکبرشاه د دیرلسمی هجری پیړۍ د پای په شاو خوا کی د یوسفزو د سیمی په «کوندی» محله کی او سېد ٬ او د پښتو ژبی حماسه ویونکی شاعر و٬ شعرو نه یې پراولسی او زانو سمو یل او تر (۱۲۸۰ هق) کال پوری ژوندی و.
ده د آدم او درخانی قصه هم په نظم کړی ده٬ او هم دده یوه حماسی بدله د «قتل کړ» تر عنوان لاندی مشهور ختیځ پوهاند دارمستتر په خپل کتاب «د پښتون خواه او شعر «هار و بهار» کی راوړی ده چی هغه داده:

را غلی غازیان د پیرنگی په دغه گړ باندی
او ړی قتل گړ باندی
را غلی غازیان غزاله و اړه لور په لور عالمه
گډ یې کړ په شور عالمه
دا شادو مخی خدای ور کړی دی په کور عالمه
آخلی به تری خور عالمه
توره نه وی ودزی و کړ په لو ړ باندی
اوړی قتل گړ باندی
توره نه وه داو لیاو کراست ورسره
ډیریې قوت و رسره
مو لا به حوری وله و کړی هرجنت ورسره
مرگ شهادت و رسره
سولیان سره شوغگ یې خور شو په کنړ باندی
اوړی قتل کړ باندی
سولیانړه شور امدت شی آی دسوات صاحبه
او نبی سی خاځی برسات صاحبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عاجزانو باندې شوی دی پسات، صاحبه
شه بنیرسیرات صاحبه

لکه بلبلې چې یریګی په لګـړ بـانـدې
اوړی قتل ګړ باندې

لکه لګړ هسې په دوی باندې شوړې کولې
دوی به تری سوړې کولې

له و یری تنګ شوچې غاز یانوپرې داړې کولې
بیل بیل به کاړې کولې

خلق پرا ته دبرندا و په دغه خوړ باندې
او ړی قتل ګړ باندې

ډیر به صفت کوم به خپله په لسان دولې
پور ته شه نشان دو لې

حورې صفت کوی په زسکه په آسمان دو لې
مل یې شه سجان دو لې

نه حصار یړی مومنان په دی شوپړ باندې
اوړ ی قتل ګړ باند ې

نه حصار یړی مومنان ترینه خطر نه کوی
تو یې پرې اثر نه کوی

ځان پرې غازی کړی چې خو ک دین د پیغمبر نکوی
بددې چې باور نکوی

زه اکبر شاه ملا و رځمه په ملاتړ باندې
اوړې قتل ګړ باندې

ماخذ :

---

د پښتنخوا ه دشعرها روبهار –۸ ۱ مخ د کابل چاپ

